آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۲۴

# د خوشحال خان ختک آثار
# سواتنامه، دریمه برخه

## خوشحال پوهنه

## ۳۳

گـــنـــده پز او گنده خور ســـره جـــوړيـــږي
خـــاص پـــه خـــاص او عام په عام سره گـــديږي

*****

نـــيم مـــلا، بـــلا د ديـــن او د ايـــمـــان دی
نـــيم طـــبيب خـــطـره د تـــن دی، هم د خان دی

*****

مـــا وی تـــه لـــکـــه گـــيـــدړ پـــه خُم کی شين يي
خـــو هـــم بـــيـــا هـغـــه گـيـــدړ يي، که رنگين يي





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د خوشحال په منظومو آثارو کې سواتنامه ځانګړی ځای لري، که سواتنامه په دقت سره ولوستل شي، له موضوعي پلوه په دې اثر کې د هغه وخت ټولنې او هغو شرایطو ته په کتو سره خوشحال په ګڼو موضوعاتو بحث کړی دی، چې د پام وړ او مهم یې دا په نښه کېدای شي:

**ـ جغرافیاي برخه چې د کتاب په پیل کې د سوات جغرافیه بیانوي،**

**ـ سیاسي موضوعات؛ چې ډېره برخه یې همدا سیاسي مسایل جوړوي،**

**ـ کلتوري برخه؛ چې د سوات په کلتور او رواجونو باندې بحث کوي،**

**ـ اقتصادي برخه، په دې خبرې کوي چې څه تولیدات، عایدات او مصارف لري،**

**ـ انتقادي برخه چې په لوړه هنري ژبه د سوات سیاسیون، رسم رواج، کړه وړه او... نقدوي.**

استاد صدیق روهي د خوشحال په باب څو د قدر وړ علمي مقالې لیکلې دي او خوشحال یې د خپل وخت د شرایطو په نظر کې نیولو سره د هغه د اشعارو او نظریاتو په دایره کې په علمي ډول داسې څېړلی دی چې د هغه د ښووني روزنې فلسفه یې اوسنیو لوستونکو، په تېره نوي نسل ته د یوه درس په ډول، راندې کړی دی. استاد روهي د خوشحال د سواتنامې په باب هم یوه ښه علمي او د پام وړ مقاله لیکلې ده. روهي صاحب په یاده مقاله کې د خوشحال د کلتوري او اجتماعي ریفورم په باب خبرې کړې دي او د سواتنامې او دستارمې په استناد یې د خوشحال د کولتوري او اجتماعي تګلارې او د سیاسي مبارزې هدفونه په نښه کړي دي، په دې ډول:«

۱ ـ خوشحال زیار باسي، چې په افغاني قبیلو او قومونو کې د ملي یووالي مفکوره پیاوړې کړي او هغوی دې ته وهڅوي، چې د نفاق او ترېګنې فکرونه او قبیلوي ذهنیتونه له مغزو وباسي.

۲ ـ د ښوونې او روزنې له لارې د خلکو د فرهنګ او سیاسي شعور سویه لوړه کړي.

۳ ـ عام خلک له خرافاتو او د بې علمه او بې عمله شیخانو او پیرانو له پیروۍ څخه لاس وکاږي او د رښتینو علماوو قدر وکړي.

۴ ـ هر څوک باید خپلې شخصي ګټې د ټولنیزو ګټو او ملي ښېګڼو تابع کړي.

۵ ـ ټول باید د ملک او هیواد په ترقۍ او سمسورتیا کې ونډه واخلي.

۶ ـ خلک باید هغه دودونه او رواجونه، چې اقتصاد ته زیان رسوي خوشې کړي او اجتماعي ثروت او عامه ملکیت بېځایه تلف نه کړي.

۷ ـ اولس باید د رشوت، فساد او بې عدالتۍ په مقابل کې مبارزه وکړي.

۸ ـ پېښتانه باید د ښځو حقوق محترم وګڼي، د هغوی تعلیم او تربیې ته پاملرنه وکړي او د تجارتي متاع په توګه یې په پیسو خرڅې نه کړي.

۹ ـ هر څوک باید د غلامانو خرڅلاو بد وګڼي او د مریونو تعلیم او تربیه او له هغو سره انساني سلوک پر خپلو ځانونو لازم وګڼي.

۱۰ ـ خلک باید د کسبونو او هنرونو د زدکړې له لارې په ټولنیز تولید کې برخه واخلي. او داسې نور.»

(روهي، څېړندوی محمد صدیق، ادبي څېړنې، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۶ل ـ ۲۰۰۷ ز کال، ۲۷۴ ام مخ)
دا لس مورده چې روهي صاحب ولیکل، د دې ټولو یادونې او مثالونه په دستارنامه او سواتنامه کې شته او خوشحال په خپلو ټاکلو ځایونو کې خبرې او بحث ورباندې کړی دی. لکه د نجونو تعلیم باندې ټینګار (دستار نامه، دولسم هنر د اولاد د تربیت) چې ما یې بېلګه په مخکنیو مقالو کې (خوشحال پوهنه، ۲۷ مه برخه) را اخیستې ده.
له ښه بېلګه یې په سواتنامه کې راغلې ده چې خوشحال په تونده انتقادي ژبه د سوات د خلکو ټولنیزې اړیکې، نا پوهي، ګټه وټه، فساد، رشوت، د خور لور خرڅول او... انتقادوي او د انتقاد اصلي موخه یې د هغو او نورو خلکو د اصلاح او بدلون له پاره وي. دا بېتونه یې ښې بېلګې کېدای شي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس به حال د سوات د ملک درته بیان کړم
د دې خلکو کار و بار به در عیان کړم

چې د ننگ په کار کې شي په ما دا چارې
د ناکس او کس هموارې نا هموارې

پښتانه واړه نادان د جهل کان دي
که دې واورید د یوسف لا په بل شان دي

ما د سوات د عالم ښه ننداره وکړه
د هر، هر فریق مې پته ښکاره وکړه

خو په خوله کلمه وایي مسلمان دي
په وعده، په عهد قول بې ایمان دي

د لږ سود، د لږ بهبود، د لږ مقصود دي
په اندک له تا خوشنود، هم نا خوشنود دي

د خپل سود له پاره گرمه یاري کاندي
چې یې سود نه وي، بې شرمه یاري کاندي

خبردار کله په شرم، په کرم دي
همگي عبدالزوجه، عبدالدرهم دي

هم یې کبر، هم یې حکم، هم یې ناز وړي
په هر څه کې د عورتو، ساز ناساز وړي

یا یې شیخ، ملا په مکر په افسون خوري
یا یې مال په خپل پردي، مگر خاتون خوري

سیوایي بدې د لور چې لونه پلوري
په دا څو توکه کې غرق دي مخ توري

په کم اصل، په بد اصل نظر نه کا
د ټنگو په لالچ خور او لور واده کا

آشنایي درسره کا، د زړه د پاسه
خپل ساتي، طمع به کاندي ستا له لاسه

د ادب په کار کې هسې نا هموار دي
کشر مشر، تور او سپین، په یوه شمار دي

مخامخ یې نور څه نه شته بې اقراره
پس شا یې نور څه نه شته بې انکاره

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواڼي اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۴۲ ـ ۷۴۳ مخونه)

استاد روهي د خوشحال د سواتنامې د پیام په باب ویلي دي چې دا اثر د خلکو د تنویر او پوهولو په موخه لیکل شوی دی. لکه د ستار نامه داسې ټکي په کې په نښه شوي دي چې تر نن ورځې هم زاړه شوي نه دي او د کولو او نه کولو په برخه کې یې په ښکاره ویلي چې دا او دا مسایل ټولنه په مثبت یا منفي لوري بیایي لکه د رشوت او فساد موضوع، د چل او فریب یا غولوني مسایل چې په هره ټولنه کې د ټولنې د پرازیت حیثیت لري. استاد روهي د خوشحال د سواتنامې د محتوا یا موضوعاتو په باب داسې لیکلي دي:
«د خوشحال «سواتنامه» هم د «دستار نامې» په شان یو تنویري اثر گڼل کیږي. «سواتنامه» نه یوازې یو ادبي اثر دی؛ بلکې سفرنامه، جغرافیه او کولتوري بشر پېژندنه هم ورته ویلای شو. سفرنامه ده؛ ځکه چې په هغه کې یې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپل سفر بیان کړی دی. جغرافیه ده؛ ځکه چي په هغه کي د سوات طبعي محیط او د خلکو د ژوند احوال بیان کړی دی او کولتوري بشر پیژندنه ده؛ ځکه چي په هغه کي یې د سوات د اوسیدونکو دودونه او رواجونه، د هغو یو تر بله اړیکي، اقتصادي وضع، عقاید، ذهنیتونه، اجتماعي مؤسسي او کولتوري پس منظر په ډیره دقیقه توګه بیان کړی دی. د خوشحال «سواتنامه» په عین وخت کي یو انتقادي اثر دی، چي په هغه کي یې نه یوازې اجتماعي مفاسد څیړلي دي؛ بلکي ځیني ادبي انتقادونه هم پکي راغلي دي. سربیره پر دې په «سواتنامه» کي د خوشحال اتو بیوګرافي هم شته چي په هغه کي یې د خپلي سیاسي مبارزې انګیزه په مفصله توګه ښودلې ده.»

(روهي، څیرندوی محمد صدیق، ادبي څیرني، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۶ل ـ ۲۰۰۷ ز کال، ۲۷۵ ام مخ)

خوشحال خان تل له نا پوهو خلکو او بې عمله ملایانو نه سر ټکولی دی. د سواتنامي په پای کي د پیرانو، شیخانو د ابلهه او نادانو له یادوني وروسته، خپل هدف ته داسي اشاره کوي:

عـام وګـړي پــه مـعنی لـکــه دواب دي
پـه دوابـو کــي د ګــډو پــه حــساب دي

چـي یــوه ګـــډه روانـــه شـي د وړاندې
هـغـه نـــوري ګـــډې تــله وريسي کاندې

ځــوک په پیر او په مرشد، څه لره ویاړي
خپـل مـراد دي هـمګي لـــه علمه غواړي

شکـر دا چـي پــه دا وخت، عالمان ډیر دي
مدعیان، شیخان که هر څو تر شمار تیر دي

خـدای دي مـا لــه مـدعي شیخانو ژغوري
تــل زمــا وي عــالـمـان د سترګـو توري

هــر عـالـم چي ربـانــي دی، تري ځارېږم
نـفساني وتــه غـلیم غـونـدې ښـکاریـږم

چي پـــه عـلـم و عمل جوړ وي رباني دی
بـي عـمـلــه عـلـم، واړه شـیـطـاني دی

نــیم ملا، بـــلا د دیـــن او د ایـــمـان دی
نــیم طبیب خطره د تـن دی، هم د ځان دی

مـــــدعي مــلا کـــه ډیـر علم حاصل کا
دی چـــي عـلـم پــه دنـیا پلوري، باطل کا

چي پــه زړه کــي یې ذره د دنیا عشق وي
د درویش درویشي نه شتــه، واړه فسق وي

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۵۶مخ)

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ